پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۱/۱۱/۰۵

# د افغانستان سیاسی او تأریخی ژورنال

## دویم ټوک

### شپږپنځوسمه برخه

## فراه

## او

## د افغانستان سویلي برخې

## تصحیحات

## ډاکټر لوډویک . ډبیلو . ادمک

AKADEMISCHE DRUCK –u VERLAGSANSTALT

GRAZ –AUSTRIA

1973

**لودویک آدمک**

**اسحق زی:** ساکزی – ژ: دا د دُرانیو یوه قبیله ده. ددې قبیلې یوه څانګه ( چې په مبهم نوم د ساکزیو په ډول ویل کېږي) په لاندې ډول ده:

| | | |
|---|---|---|
| میسري خیل (خان خیل) | مندیزي | هوازي |

(سترواک اعلیحضرت – ژ) احمد شاه (بابا – ژ) د اسحق زیو د مشرانو په منځ کې لاندنې مقامونه موروثي کړل :

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | میر اسپان | | د آسونو د ساتنو لوی مشر |
| ۲ | پـَره وال | | د یساول یا پیش قراولونو لوی مشر [1] |
| ۳ | میر شکار | | د ښکاریانو لوی مشر |
| ۴ | داروغهٔ شتران | Darogha of camels | د اوښبانو لوی مشر |

د اسحاقزیو اکثریت په پُښتِ روډ کې استوګن دي او دلته د صاحبداد خان د بومي مخبر د راپور له مخې په عام ډول ددوی ۷۰۰۰ کورنۍ استوګنې دي چې په دغو ځایونو کې دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| زمینداور | ۸۱۰ | ګرشک | ۲۹۰۰ |
| نوزاد | ۱۲۹۰ | ګرمسیل | ۲۰۰۰ |
| تول ټال | | | ۷۰۰۰ |

[1] - یادونه دلته په انګلیسي متن کې leader of the van لیکل سوی او زه ګومان کوم چې van باید د vanguard یعنی پیشقراول یا یساول یا د لښکر د مخکیني ډلګی دی- دا مې دلته د احتیاط په پار یادونه وکړه که له ما څخه تېروتنه سوې وي دوستان دی اصلاح کړي - ژ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

پر دغو اسحاقزیو سربیره په لاش جوین کې هم اسحاقزي سته. پیکاک یوازې د جوین د کلا او کلي د افغان اسحاقزیو وګړو شمـېـر ۱۰۰۰ کورنۍ ښيي، خو میتلند تر دې شمېرې ډېره کښته شمېره ښيي او وایي چې ۱۵۰ کورنۍ د اسحاقزیو او ۳۰۰ د فارسیوانو کورنۍ دي. همدا شان د همدغـهٔ قوم ۲۰۰ کورنۍ د هرات په ولایت کې میشتي دي (وګورئ د هرات ټوک) او هم غټ شمېـر کوچیان دلته میشت دي چې د خپلو پسونو ډېرې لویې لویې رمې لري، میتلند دا سیمه او وګړي په ۱۸۸۵ز کال کې د شهرک په درې کې لیدلي دي (آی. بي. سي، اي. بي. سي.)

* **اِشکینک**: وګورئ: آشکینک

**اسماعیل**: وګورئ: دادِ خدا

**اِستاوی: اِستووی**: ۲ ــ ۳۲، ۹ ــ ۶۳: د خاشروډ د سیند پر ښی غاړه باندې تقریباً د «راکي» مخالف لوري ته یو کلی دی. دلته ۵۰ جونګړې دي. دلته د خاشروډ د سیند غاړې د شین غزي د ونو د «پاده[2] د ونو» په ځنګلونو پوښلي دي او د اوښانو د څر لپاره پریمانه خوراک توکي دي. (ایس. ایم. بومي معلومات ۱۹۰۳)

**جبار**: وګورئ: خاشروډ

**جهانګیر**: وګورئ: سیخ سر

**جهان بیګ**: وګورئ: خاشروډ

**جهازي**: ۱۹ ــ ۳۲، ۳۴ ــ ۶۴: د نوزادو په سویل ختیځ کې یو کلی دی او ویل سوي چې د پلوپلزیو ۷۰ کورونه په کې استوګن دي. (صاحبداد خان). *دا کلی له نوازدو ۸ مایله لیرې دی چې له موسی کلا څخه لویدیځ لور ته ۱۵ مایله کـېـږي.*

**جلال خان ناور**: ۲ ــ ۳۰ ، ۲۶ ــ ۶۳: د ګلي چاه او خواجه علي ترمنځ دښتې کې یو ځای دی، د سیستان مأموریت دلته د ۱۹۰۳ز کال د فبرورۍ په میاشت کې د باران اوبـهٔ موندلي وې. دوی همدلته شپه وکړه. (ایس. این. ۱۹۰۳). *دا ځای د ګرمسیر د خورۍ د سویل ختیځ په ۲۸ مایلۍ کې دی.*

**جلال الدین**: ۲۱ ــ ۳۲ ، ۲۴ ــ ۶۴: دا په نوزادو کې یو کلی دی او ویل سوي چې د بارکزیو ۲۰ کورونه په کې استوګن دي، دا کلی د نوزادو په سویل لویدیځ کې واقع دی.

**جالو**: ۴۲ ــ ۳۱ ، ۵۷ ــ ۶۱ :دا د خُسپاس روډ، د سیند د غاړې یو ځای دی، دلته د اوبو چینې سته. دا ځای د بسرینګ له سویله ښایسته لیرې دی. (تبیت، بومي معلومات)

**جمشید**: ۱۷ ــ ۳۲ ، ۲۹ ــ ۶۴: دا په نوزادو کې یو کلی دی چې د بارکزیو ۲۵ کورونه په کې استوګن دي. (صاحبداد خان). *دا کلی د نوزادو د سویل په ۷ مایلۍ کې دی.*

**جانی**: وګورئ: نادعلي

**جسر**: وګورئ: سورکی

* **جای درق**: وګورئ خوش آباد درګ/ درق: ۳۶ ــ ۳۱ ، ۲۹ ــ ۶۱

**جک شهرک**: ۳۵ ــ ۳۲، ۴۵ ــ ۶۲: د واشیر او شاهیوان تر منځ د تللي سړک پر لارې یو کلی دی چې له شهرکه په ۱۲ مایلو ورها خوا اوښتلو د پوځي کمپ لپاره ښـهٔ ځای لري او دا ځای شاهیوان ته له رسیدلو مخکې درې مایله واقع دی. پریمانه اوبـهٔ او واښـهٔ لري او د کمپ وهلو سیمه ئـې ډېره ښه ده (سندرز)

**جیجه**: ۵۰ ــ ۳۲، ۵۹ ــ ۶۱: دا د ادرسکن د سیند پر غاړه د نورزیو د استوګنې سیمه ده، دغه ځای د سبزوار په نامـهٔ یادېږي چې (د سړک له لارې) د فراه د شمال په ۵۰ مایلۍ کې واقع ده. («جیجه» یا «جیګه/ جیګاه/ جګه[3]) کې په ځمې کې د کوچیانو ۳۰۰ کېږدۍ ولاړې وې چې تر دوبي پورې کرار کرار تر ۱۰۰ کېږدېو پورې راټېټېږي، او دوی له لویې لارې څخه دوه مایله لویدیځ لوري ته خپلې کېږدۍ دروي. ددې کلي مشران د نورزیو دوه تنه خانان دي، عطا محمد او دین محمد. دلته د سیند په بستر کې بوټي او خس پریمانـه دي او ویل سوي چې د شاو خوا غرنۍ ډډې په وحشي وزو ډکې وې. له سیند لرې کښته په «کلاته» کې مشهور سعید (سعدالدین) چې په دې سیمه کې ډېر نفوذ لري ژوند کوي او نوموړی خپل لاس لاندې د ملازمینو یا ندیمانو ډلې لري. نوموړی د پښین له سعیدانو سره اړیکه لري. ویل سوي چې له جیجه څخه د غرونو له منځه یو ښه سړک تللی دی چې نیغ په نیغه فراه ته ځي او د «دهانـهٔ غُرغـُش» په نامـهٔ یادېږي، خو بیا هم ویل سوي چې له دې سره سره چې دا لاره تر عمومي سړکه لنډه ده، لږ کارول کېـږي. له همدې لارې په استثناء ما هیڅ بل عملي لوری نه دی اوریدلی چې له دغو په ګرنګونو او کږ لیچونو ډکو لارو څخه دې تیره سوې وي، او هر څومره ئـې چې وینئ نو سړی له ځان سره دې فکر کولو ته اړ باسي چې افغانان څومره د یوۀ پرمخ تګ په حال کې ځواک د معابرو په هکله بحث او مشاجره کوي. ویل سوي چې سیند دلته په دوبي کې وچ وي خو په جیجه کې د اوبو یو

---

[2] - padah trees: بیا هم د دې لغت معادل په هیڅ قاموس کې ونـهٔ موندل سو. ښایي په انګلیسي متن کې ټایپي غلطي سوې وي او یا هم د کومې ونې سیمه ییز نوم دی چې لیکوال هماغه نوم په انګلیسي کې را اخیستی دی - ژ

[3] - Jija or Jiggah



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شمېـر چيني سته چي هيڅکله نـهٔ وچېږي او دلته د اوبو پريمانتيا سته. د اړتيا وړ شيان له دې ځايه تر لاسه کېـدای سي."
سبزوار ته تللی سړک تر يوې لنډې لارې پورې د ادرسکن د سيند په بستر ورځي او بيا د سيند ښي لاس ته تاوېږي. دلته د سيند بستر د (مي په مياشت کي) په پلنوالي کي د مايل د ربعي په اندازې دی چي د سيند غاړې ټيټي او په خسو او بوټو ډکي وي او د اوبو بهير په خپله د ۲۰ يارډو په اندازې عرضاً بهيږي او ژورتيا ئـې د پښو تر ښنګرو پورې ده. دا سړک له سيندہ په اوښتلو سره چي ښي لورته تاوېږي په کيڼ لاس کي نيغ غونډيو ته رسېږي او د څلورو مايلو په اوږدوالي د يوهٔ مسطح يا همواره کوتل له لارې اوړي او د يوهٔ غاښي يا سوري له منځه چي شاو خوايي په سختۍ سره ۸۰ يا ۱۰۰ يارډه ده تيرېږي او له دې ځايه وروسته په يوې هموارې دښتي ورننوځي.
ددغهٔ غاښي يا سوري په شاو خواوو کي د يوهٔ لرغوني ډېرين ديوال پاتي شوني دي او د ګومان له مخي ويلای سو چي ددې ديوال موخه له شمال لوري د لرغونو يرغلګرو د مخنيوي لپاره وه او د همدغهٔ دليل پر بنسټ ښاغلی ييت په دې باور دی چي ولی دې اوس له دغه ديواله که اړتيا پيښه سي کار وانـهٔ اخيستل سي. دا غونډۍ په دواړو غاړو کي د ډېرينو ستوغو ګړنګونو په کرښو کي غځېږي، او ظاهراً له دې موقعيته شا ته بيرته تګ ناشونی دی مګر دا چي بله اوږده بديله لارې دې ونيول سي. (ييت).
**جيکان** :وګوری: جيکان: ۲۲ – ۳۱ ، ۲۴ – ۶۲
**جليـجـل**: ۲۸ – ۲۹ ، ۱۹ – ۶۳: د بلوڅ په سرحد کي د رباط په نـږدې ۱۲ مايلۍ کي د يوهٔ ځای نوم دی. دلته يو ټيټ خوړی دی چي د چنار په شان ډېرې ئـې پر سر ولاړې دي. (آی. بي. سي.)
**جيلجي**: ۲۰ – ۳۲، ۵۱ – ۶۴: دا په موسی کلا کي يو کلی دی چي په تګاو کي په همدغـهٔ نامـهٔ د موسی کلا د کلي د ختيځ په ۶ مايلۍ کي د موسی کلا او شهر کهنه د سړک پر غاړه واقع دی. دې کلي کي د عليزيو ۳۰ کورونه استوګن دي. (صاحبداد خان). *اوسنی نقشي دری ځايه په دغه نامـهٔ ښيي: د جُـلجي کاريز، کښته جيلجي، او لوړ جيلجي، دا ټول په همدغه عامه سيمه کي دي.*
**جود**: ۱۰ – ۳۱ ، ۳۹ – ۶۲: دا د تګريج د نالي يا د تګرشک ماندي لپاره بل نوم دی.
**جوی ابراهيم**: (د ابراهيم ويالـهٔ - ژ): ۱۳ – ۳۲، ۱۵ – ۶۳: لوړوالی: ۲۶۸۰ فيټه. دا د دلارام – فراه د سړک په اوږدو کي له دلارام څخه ۱۶ مايله ليرې د دمې نيولو يو ځای دی چي کله ناکله کارول کـېږي. دلته دوه يا درې څاه ګاني سته خو اوبـهٔ ئـې ښـې نـهٔ دي. د اړتيا وړ شيان له بکوا څخه ترلاسه کـېدای سي. (بومي معلومات ۱۹۰۳). دا ځای د ګرشک له سويل څخه ۱۲ مايله ليرې دی.
**جوی محمد**: (د محمد ويالـهٔ - ژ): ۳۹ – ۳۱، ۳۶ – ۶۴: د بُست کلا ته پر لارې له بالا خاني څخه ۲ مايله ليرې د سړک له ښي لاسه په تېرېـدلو د يوهٔ ځای نوم دی. ددې سيمې په ګاونډ کي نورزيان ميشت دي چي په کـېږدېو او له درويو څخه جوړو جونګړو کي ژوند کوي. (بيلو)
**جوی ندامت**: ۲۲ – ۳۲، ۴۶ – ۶۴: په موسی کلا کي يو ځای دی چي د ويلو له مخي په کي د عليزيو ۵۰ کورنی ديـره دي. (صاحبداد خان). *دا ځای د ندامت د کاريز په نامـهٔ هم يادېږي.*
**جوی نو**: (نوې ويالـهٔ - ژ): ۳۸ – ۳۱، ۳۳ – ۶۱: د فراه رود په کيڼي غاړې کي د لـفتان په مقابل لوري کي د يوهٔ کلي نوم دی. ددې کلي د کورنيو شمېـر ۱۱۰ دی او ټول ئـې پښتانـهٔ دي. *دا کلی د لاش جوين د سويل لويديځ په ۵ مايلۍ کي دی.*
د لاش جوين سردار مدت خان (مدد خان – ژ) ددې سيمې يو په دريمه ګټه اخلي او نور اسحاقزي ئـې پاتي برخه اخلي. ددوی ځمکوال دا دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| سردار مدد خان اسحاقزی | لري | ۴ | پګوګاني |
| محمد يوسف خان | لري | ۳ | پګوګاني |
| امير مـحمد خان | لري | ۲ | پګوګاني |
| غفار خان | لري | ۱ | پګوګاني |
| محمد حسن خان | لري | ۱ | پګوګاني |
| وروستي څلور واړه ياد سوي کسان د سردار مدد خان زامن دي | | | |

**جوی نو**: ۳۸ – ۳۰ ، ۴۷ – ۶۱: دا د هلمند د سيند پر ښي غاړه له قلعهٔ فتح څخه څو مايله شمال لور ته د بلوڅانو دوه کلي دي. په دواړو کي ۲۰۰ کورونه دي او ۹۰۰ تنه استوګن وګړي لري چي ۷۸۰ کورني څاروي، ۸۰۰ پسونه او وزې، ۳۰ آسونه او ۷۰ اوښان لري. دوی ۷۰ قلبې ځمکه لري او هره قلبه ئـې ۴۰ خرواره حاصل کوي. د کلي ملک ارباب دوست محمد خان دی. دا دواړه کلي يوازې ۱۲ کاله کـېږي چي جوړ سوي دي. کله چي دوی دلته ميشت سول نو له قلعهٔ فتح څخه ئـې يو کانال راوغځاوهٔ. (ايس. ايم. ونليس ۱۹۰۳)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

**جوی سرکار**: ۳۷ – ۳۱، ۲۵ – ۶۴: د بُست کلا ته د تللي سړک په ښی غاړه کې په یوۀ لنډ واټن کې یو کلی او یوه کلا ده چې له کندهاره پر راغلي لارې باندې د بالا خاني د لښکرکوټ په شپږمایلی کې راځي او دا ځای لښکري بازار ته له رسېدو مخکي په لنډ واټن کې موقعیت لري. بل سړک چې د تورن میټلند د ۱۸۷۹ز کال د دسمبر د میاشتې په راپور کې ورڅخه یادونه کوي دغـۀ کلي ته سړک له ګرشکه د مختار له غونډۍ څخه په راتېرېدلو راغلی دی، او د بُست کلا ته ځي، ظاهراً دا سړک د بالا خاني له عمومي سړک سره له یو ځای کېدلو پرته نیغ راغلی دی او د بیلو په وینا دا سړک د ارغنداب د سیند د بستر پرغاړه همداسي راغلی دی. (والتر – ژ) بیلو په ۱۸۷۲ز کال کې دا کلا د همدغـۀ وخت یوه مېرنه کلا شرحه کوي چې د یوۀ ډېر نامتو نجیب سړي کلا ده او ددۀ د خپلو ښځو په منځ کې جوړه سوې ده او ګردچاپیره ئـې لوړ لوړ دیوالونه جوړ سوي دي، اوبـۀ ئـې د کاریز دي او میټلند وایي چې دا کلا یوه مستطیل ډوله کلا ده چې دوه برجونه لري چې په ډېر ښـۀ حالت کې دي. له دې احاطې دباندې د خدمتګارانو لپاره پیاده خاني او د استوګنې ځایونه دي او شاو خوا ئـې د دُرانیو، غلزیو، بلوڅانو او نورو خوارۀ وارۀ کورونه دي او د څمکوالو څمکي ورته کري. داسي ښکاري چې دا کلا په ۱۸۴۶ز کال کې سردار کهندل خان وروسته له هغې جوړه کړه چې نوموړي ګرمسیل له کندهار سره ملحق کړ او په دۀ پسي دا کلا د دۀ لمسي سردار ګل محمد ته پاتې سوه چې نوموړی له کلا سره متصل د تیول د څمکو څښتن دی، نوموړي په ۱۸۷۹ز کال کې په کندهار کې برتانوي دولت ته خپل بیعت او وفاداري اعلان کړې وه. نوموړی د محـمد صادق خان زوی دی، محمد صادق خان په ۱۸۴۵ز کال کې د ګرشک والي وو، نوموړي په همدغـۀ کال (فریر) په محمود آباد کې زنداني کړی وو. (بیلو، میټلند، فریر)

**جوی شیخ محمـد**: ( د شیخ محـمد ویالـۀ - ژ ): ۱۱ – ۳۲، ۵۰ – ۶۱: له تاوسک[4] څخه څو مایله پورته د فراه رود د سیند له ښی غاړې څخه یو لوی کانال جلا کېږي. ددې کانال د اوبو ژوروالی د سیلابونو پرمهال له ۴ فیټو پورې ته ځي.دا کانال خپل بهیر ته تر قلعـۀ کاه پورې دوم ورکوي. (ایس. ایم. بومي معلومات ۱۹۰۴).

**جمعه**: وګورئ: خاشرود

**جمعه خان**: وګورئ: نادعلي

**جمعه خان**: وګورئ: خاشرود

نوربیا

**جوین**: وګورئ

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک ټولی او دوېم ټوک ټولي برخي لوستی شی.

[4] - Tawesk



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ